لیکوال: محسن نوربخش، پیام فدائي، گڼه ۱۶۲، دلو ۱۳۹۱

ژباړه او لنډون: ولي


۰۲ اپریل ۲۰۱۳

# امپریالیستي مالي کمکونه،

# په غورځنګونو کې د نفوذ اوزار

پر آزادي بخښوونکو غورځنګونو باندې د اغیزې او همدا ډول په دې غورځنګونو کې د کمونیستانو د ودې او ځواک ته د رسیدلو د مخنیوی لپاره، د امپریالیستانو د بیلابیلو چال او چلندونو څخه یو یې هم د دې غورځنګونو په کړنلاره او ایدئولوژیکو موخو کې نفوذ دی، څو له دې لارې د د ې مبارزاتو ګړیندتوب پخ، مهار او ابعاد یې کنترول کړي او بیا یې د خپلو ایده لوګانو د غوښتنو او تمایلاتو سره برابر په کړو وړو لارو هدایت کړي چې پایله یې د پانګوالی نظام د خوندیتوب او پایښت تضمین دی.

دا ایډئولوژیک نفوذ چې معمولاً د انساني ذات، د بشریت سرشت، تولنیز عدالت، د وینا آزادي، نړیوال بشري حقونه، د ولسواکی حکومت، د ټولو لپاره آزادي او دموکراسي او ... ښکلي او ښایسته عبارتونو په لفافه کې راتاو شوی دی، تل فعاله افرادو او یا سازمانونو ته د نقدي جایزو له ډالی کیدو او مالي مرستو سره مل دی. البته دا ډول نقدي جایزې او مالي مرستې، د همدې ایډئولوژیک نفوذ د کوښښونو هغه ښکاره برخه ده چې په خبري رسنیو کې د شور او زوږ او بی کچه تبلیغاتو سره د ځانګړو بودجو څخه ورکول کیږي. څرګنده ده چې د دې ډول مالي مرستو د پټې او ناڅرګندې برخې ورکړه چې د «دموکراسی» د پراختیا او د نادولتي «آزادي غوښتونکو پروژو» له پیل او ادامې څخه ملاتړ په موخه ورکول کیږي، د دوه اړخیزې هوکړې له مخې، پټ پاتې کیږي.

په امریکا او لودیځې اروپا په هیوادونو کې، کله چې د کابینې غړي او د سترو صنایعو مدیره پلاوي، د پوځ جنرالان او لوړ پوړي افسران، د ولسي جرګې او مشرانو جرګې استازي او... «متقاعد» کیږي، په دوديز ډول په هغو موسسو کې ګمارل کیږي چې هغو ته «فکري خونه» او «اندتون» ویل کیږي. په دې ادارو کې پانګوال پلوه وړ مغزونه د وتلي پوهنتونو د لایقو فارغ التحصیلانو سره چې د نړۍ په څو ژبو برلاسه دي، هره ورځ په سیستماتیک ډول د نورو هیوادونو وضعیت تر شننې او ارزونې لاندې نیسي او د تحلیلی ـ تحقیقي مقالو په چاپولو سره، د ولسي جرګې او مشرانو جرګې فراکسیونونو، پوځیانو، د هیواد اطلاعاتي او امنیتي سازمانونو او سپینه مانۍ ته د اطلاعاتي تغذیې زمینه برابروي او پانګوالان په دې ډول خپل کسان او پلویان بیا رغوي.

د دې ارګانونو له جملې څخه یو یې هم د Middle East Partnership Initiative («په منځني ختیځ کې د ګډون لپاره نوښت») هغه سازمان دی چې په وب پاڼه کې یې، یاده موسسه داسې تعریف شوی ده:« د ولسمشرۍ په نوښت

رامنځته شوی [سازمان] چې په منځني ختیځ کې له اقتصادي، سیاسي او ښوونیز رفورمونو د هلوځلو ځخه ملاتړ وکړي.»

په امریکا کې د دې ډول موسسو ځخه یوه بله فعاله ځته National Endowment for Democracy («د دموکراسۍ لپاره ملي صندوق») دی چې اختصاراً NED نومیږي. دا ځته، ظاهراً په نړیواله کچه د دموکراسۍ د پراختیا د هلې ځلو لپاره، خو په اصل کې د کمونیزم سره د مبارزې لپاره، په ۱۹۸۳ کال کې د امریکا د وخت ولسمشر رونالد ریګان لخوا کنګرې ته وړاندیز او بیا پلې شو.

د «دموکراسۍ لپاره ملي صندوق» له رامنځته کیدو مخکې، د امپریالیزم د خوښونکو سازمانونو، ډلو او افرادو تر منځ د پیسو ویشلو دنده د CIA په غاړه وه. خو له هغه ځایه چې د سیا جاسوسي سازمان د انسان وژني او د آزادي غوښتونکو په وړاندې د جنایتونو او په بیلابیلو هیوادونو کې د «ملي» دولتونو د ړنګیدو لپاره د بې دریغه جنایت لپاره ډیر زیات بدنام او کرکجن شوی و او له دې جاسوسي سازمان سره د اړیکو اعتراف هغو افرادو، ډلو او ګوندونو لپاره چې د ملي توب او ولسي توب ادعا یې درلوده، ستونزمنه تمامیده، د « دموکراسۍ لپاره ملي صندوق» په نامه نوی سازمان رامنځته شو چې هماغه پیسې، خو دا ځل د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په ځای د کنګرې له بودجې د «نوې ځیره لرونکې» سازمان له لارې ورکړې. (له یاده ونباسو، NED چې د کمونیزم سره د مبارزې په موخه جوړ شو، په افغانستان کې یې ځینې «کمونیستانو» ته هم د ګوند جوړوني درسونه ورکړې دي!!! ـ ژباړونکی)

البته دا هماغه دموکراسي ده چې امپریالیستانو د عراق او افغانستان پر خلکو باندې د خرواړونو بمونو په غورځولو او په دې دوو هیوادونو کې د سلګونو زره بې ګناه خلکو په وژنې سره هغوی ته ډالۍ کړه.

هغه په اصطلاح کیڼ اړخي چې له امپریالیستانو ځخه د هیڅ ډول مرستې اخیستلو ځخه ډډه نکوي، په واقع کې طبقاتي مبارزه او د پانګوالۍ نظام په نابودۍ کې د کارګرې طبقې په تاریخي رسالت باور نلري او دې آر ته چې له ارتجاع سره مبارزه له امپریالیزم سره له مبارزې جلا نه ده، ارزښت نه ورکوي.

خو واقعي کیڼ ځواکونه او د کارګرې طبقې رښتني مدافعین په دې واقعیت کاملاً پوهیږي چې امپریالیستان له بیلابیلو لارو، په ځانګړې توګه د ځایي ځواکونو له لارې، په هغه هیوادونو کې چې تر سلطې لاندې دي؛ په انقلابي او ولسي آزادي بخښوونکو غورځنګونو کې د اغیزې سره، دا غورځنګونه تر خپل کنترول او نفوذ لاندې راولي تر څو یې بالاخره په شنډو غورځنګونو بدل کړي. نو د ټولو انقلابي ځواکونو دنده ده چې د امپریالیستانو د «بشرپالنې»، «تاوتریخوالي ضد» او «بشري حقونو» ماسکونه ځیرې او د هغوی د واقعاً کرغیړنو نیتونو د منځپانګې د بربنډولو سره، ولسونو ته د هغوی توطئې ښکاره کړي.